# په سمنګان کې ۹ تنه پر روغتیايي کارکوونکې د جنسي تیري په تور نیول شوي

د سمنګان ولایت پولیس وايي پر روغتیايي کارکوونکي د ډله ییز جنسي تیري په تور یې نهه کسان نیولي دي. د رپوټونو له مخې پر دغې روغتیايي کارکوونکي تیره اوونۍ د سمنګان ولایت د رو دواب ولسوالۍ په روغتیايي مرکز کې یوې ډلې کسانو جنسي تیری کړی دی. د رپوټونو له مخې دغې روغتیايي کارکوونکي چې جنسي تیری پرې شوی، تیری کوونکي پېژندلي او پولیسو ته یې ښودلي دي. دغه کسان همداشان پېښې ملامت شوي چې پر دغه روغتیايي مرکز د برید پر وخت پر وسلو سمبال وو او یو بل روغتیايي کارکوونکی یې سخت وهلی او ټپي کړی دی. د سمنګان د پولیسو ویاند هاشم بیان ویلي چې له نیول شویو کسانو څخه یې څلور تنه له ۱۸ کلونو ټیټ عمر لري او نور یې د ۲۵ او ۳۰ کالو ترمنځ دي. بیانغلي بیان وویل: « دغه کسان د دوو روغتیايي کارکوونکو د ادعا له مخې نیول شوي دي. دوسیه مو څارنوالۍ ته استولې او قضیه تر پلټنې لاندې ده.» د سمنګان د والي ویاند صدیق عزیزي هم ویلي چې تر اوسه یې داده چې دغه پېښه سمه وڅېړل شي او جزییات یې ځرګند شي. مقاماتو ویلي چې تر اوسه یې پر دغه روغتیايي مرکز د برید د انګیزې په هکله اطلاعات ندي ترلاسه کړي.

Ketabton.com

# ...ار د دوام پر وړاندې د سیاسي مخالفانو دریځ کودتا ده

...ام پر وړاندې د حکومت د سیاسي مخالفانو دریځ د اساسي قانون خلاف دی او کودتا بلل کېدای شي.

...ماکلي
...لسمشر د
...رګولي
...ی ها د

د حکومت دې سیاسي مخالفې ډلې د دوشنبې په ورځ په خبري غونډه کې وویل چې ولسمشر اشرف غني باید پېو سرپرست حکومت ته واک وسپاري. خو ارګ وايي، دریځ د اساسي قانون خلاف دی او کودتا بلل کېدای شي. د ولسمشر د ویاند مرستیال صمیم عارف د سې شنبې په ورځ ... راډیو ته ویلي، په دې اړه د اساسي قانون

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**